# ځو مینه ناک غزلی

---------------------------

## نقده مینه

له حورو دی یم‌تیر ملا مه مي ځوروه
نقده مینه مي ګوره په پور مه را واړوه
ځما او دجانان په مینځ کی مینه ریښتیانی دی
د خیا ل او د اوها مو په ځا ل مه مي بندوه
نه حوردجنت غواړم نه مسکا د حور په شونډو
دا تش وعده او دروغ دی ملا مه را چلوه
د ستا عقل اوهامو کی له وخته وده کړي
باور می د ګما ن په تله هیڅ وخت مه تله
زه « مل » خپل آشنا سره اورین مینه سا تمه
ورځه ورځه له څنګ می وخت مه می مصرفوه
**

## وتخنید م

چی‌لاس دی مي په لاس کی شو وتخنید م
د سترګو ځیر کتو سره دی ولړځیدم
په زړه می ستا د مینی ولولی شو را پیدا
د ستا د اورین مینی په مجمر کی ولویدم
دذهن په چمبرکی مي ستا مینه ځای په ځای شو
بیواکه ستا د مینی په دام ونښلید م

ما ځا ن خپل په رضا او رغبت تا ته وسپارل
«مل» ستا د آباسین چي په څپو وغورځیدم

**جرمنی27-06-2019

## سور انګا ر

پښتنی پیغلو کي مینه سور ا نګا ر دي
کرشمي يي پټ د هرچا له انظا ر دي
خپل زړه وړی ته په مینه مسکي کيږي
په اشا رې سره د مینی یی تلوار دی
سترګی تور په کاجل ګل تومبلی په وربل
هرکا ته کی یی د مینی پټ اسراردي
د لونګو غا ړه کي یی په سپین غاړه
په هر پل کي د بنګړیو شرنګها ر دي
«مل» یا رې د کلي پیغلی آسان نه دي
پټ لیده کا ته بی احتیاطه ډیر مرګباردي

**جرمنی27-06-2019

## دمینی اقرار

هومره ځیر چي درته ګوروم په زړه نه لرم اختیار
چي نظر می پر تا شوي زړه مي وتي له قرار
ما د ستا په تورو سترګو نښا ني د میني ولید
د بوسي هوس مي ستا د با رخو شو په تلوار
ستا مړاو مړاو کتل شور د مینی مي په زړه کړ

زړه مې ولویده بیواکه ستا د مینې په انګار
نور مې زغم پاتې نه دي آشنا ډیره مې خوښیږي
زه «مل» تا ته عذرانه د خپل مینې کړم اقرار
**جرمنی 2019-06-28